لیکونکي : محمد حق نېکزاد

۲۰۱۰/۰٤/۱۳م

# د پارلماني ټاکنې دوهمه دوره

موږ اوس ددې خبرې شاهدان یو چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پارلمان لمړې دوره د خداي (ج) په فضل او برکت سره مخ په ختمېدوده. اوس ددې خبرې وار را رسېدلي دې چې هم پخواني او هم نوي وکیلان د دوهمې دورې د پاره ځانونه چمتو کوې. ددوې د چمتووالي اصلي هدف دادې چې بیا به لکه د لمړې دورې وکیلانو په شان و خپلو موکلینو ته چې څه بې په فکر کې راتله او هغه په خوله وېلاې سوه غوړې او چربې وعدې به بې ورکولې.

د لمړۍ دورې وکیلانو که چېرې زما د یاده نه وې وتلې داسې وعدې ورکړې وې چې: چا به وېل! که چېرې وکیل وټاکل سوم زه به خپلو موکلینو ته وېالې جوړوم ، چا به وېل چې بندونه او نهرونه جوړوم ، چا به وېل چې ښونځې او څرکونه به جوړوم . داسې او داسې نور. خو کله چې په پارلمان کې د وکالت په چوکۍ باندې په خېر سره کښېناستل بیا نه د برېښنا جوړول وه او نه د ښونځې خبره چاه پر خوله راوړه او بیا نه چرګې وې او نه پرګې. ددوې لمړۍ خبره د خپلو معاشونو د لوړولو خبره وه او بوڅه نورې خبرې چې هغو هم چنداني د لېدو وړ نتیجه نه در لودله.

ددوې د وعدو د نه پلې کېدو اصلي علت داؤ چې کومې وعدې چې دوې و خپلو موکلینو ته ورکړې وې ، ددې وعدو پلې کول اصلا دا نه ددوې اصلي وظیفه وه او نه دوې ددې خبرو مالي او تخنیکي امکانات درلودل. ځکه چې د بندونو، وېالو، برېښنا کوټونو او داسې نورو کارونو د سرته رسولو د پاره ترهرڅه د مخه و مالي او تخنیکي امکاناتو ته اړتیا سته کوم چې دوې هغه په خپل واک کې نه درلودل. نو په نتیجه کې هغه ټولې وعدې پر یخې باندې ولیکلې سوې او لمر ته کښېښنولې سوې.

اوس به راسو و خپل اصلي هدف ته چې ددوهمې دورې د محترمو وکیلانو ورځنې شعارونه به څه وې؟ ددې د پاره چې ددوې موکلین دوې ته راېې ورکړې، دوې به څه وعدې ورکوې ؟ بیا به هغه مخکنې غوړې او چربې وعدې وې؟ تر کومه ځایه چې زما فکر کار کوې، که چېرې بیا هغه درک او هغه خرک وې ، نو زما تحلیل دادې چې وکیل صاحبانو خپله دنده او مسؤلیت ندې پېژندلې. په دې هکله زما مشوره داده چې لکه د نورو ملکونو ټاکنې، هر څوک دې د خپل صلاحیت او مسؤلیت په چوکاټ کې دې داسې شعارونه غوره کړې چې د هغو د عملي کولو توان ولرې او هغه ددوې په کارپلان کې وې.

ومن الله توفیق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ